نظرمحمد مطمئن
۲۰۱۴/۰۲/۱۹

# د سولې د رسۍ سر امریکا، منځ طالبانو او پای یې کرزي نیولی

د ولسمشرکرزي پر دې خبره هیڅوک هم ژور فکر نه کوي چې هغه وایې امریکا دي ومني چې په افغانستان کې سوله راولي، په دي شرط زه له امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک کوم.
طالبان وایې چې یو محارب امریکایي هم په افغانستان کې وي هغوی به جګړه کوي، د امریکایي پوځیانو او هغوی له پاره د اډو په شتون کې د سولې دروازي بندي بولي.
ښاغلی کرزی ښه پوهیږي چې که له امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک کیږي او یا خو امریکا ته د تړون د لاسلیک کیدو وعده ورکول کیږي، بیا نو په یومخیز ډول د سولې دروازه بندیږي، او په دغسي حالت کې د سولې خبرې بې معنی دی، یواځي ځیني ناپوه افغانان او نړیوال به تر لږ نوري مودې هم وغولول شي.
زما هدف له پورته جملو څخه دادی چې: که په رښتیا سره ښاغلی کرزی غواړی چې سوله وکړي، نو بیا د امریکا سره د امنیتي تړون او هغوی ته د اډو ورکولو مشروط خبرې ولي کوی؟ هغه هم داسي شرط چې خپله شرط د اصل (سولې ) مانع دی، باید چې ښاغلی کرزی په روښانه ټکو کې د تړون او اډو مخالفت وکړي، تر څو د سولې له پاره دروازه پرانستل شي.
اوس چې ښاغلی کرزی وایې چې امریکا دي سوله راولي، زه امنیتي تړون ورسره لاسلیک کوم، آیا دا امکان لري؟ امریکا پر چا سوله تحمیل کړي؟ پر طالب؟ که د ولسمشر کرزي هدف داوي چې پر طالبانو دی هر څه تحمیل شي هغوی دي په حکومت کې د ګډون له پاره په زور راوستل شي، او چې کله طالبان په حکومت کې شامل کړل شول، بیا سمدستي زه له امریکا سره تړون لاسلیک کوم، آیا دا امکان لري؟ دولس کلونه امریکا او د هغوی تر ۵۰ ډیرو متحدینو (هیوادونو) د طالبانو له منځه وړلو کوشش وکړ، ویې نیول، ویې ځورول، له کورونو څخه یې پسې واخستل، بمباردونه یې پرې وکړل، د ګوانتانامو زندان ته یې یوړل، د بګرام او پلچرخي زندانونه یې پرې ډک کړل، تر څو هغوی مجبوره کړي چې د ښاغلي کرزي حکومت ومني او په حکومت کې ورسره مشارکت وکړي، مګر امریکا او متحدین یې ونه توانیدل.
خو د تړون د لاسلیک لپاره د شرط په توګه پر امریکا باندې د ښاغلي کرزي فشار چې باید سوله راولي، یو بل تعبیر دا هم کیدای شي چې هغه پوهیږي د تړون یو غټ عنصر د بې پیلوټه الوتکو (ډرون) بریدونه دي چې په افغانستان کې له امریکایي اډو څخه په استفاده به په افغانستان او پاکستان کې ترسره کیږي. دغه بریدونه همدا اوس هم په پاکستان کې د بې امنیتۍ او جنګ سبب شوي، او افغانستان کې هم کیدای شي د سولې د راوستو پرځای د جنګ د لا زیاتیدلو سبب شي. نو ځکه خو ښاغلی کرزی له امریکایانو څخه دا ژمنه غواړي ترلاسه کړي چې تړون باید د سولې په خدمت کې وي، نه د سولې په مخ کې خنډ. که د یوې احتمالي سولې په نتیجه کې د ټولو امریکایانو وتنه اړینه وبلل شي، نو امریکایان باید ولاړ شي، خو امریکا ورسره دا نه مني. لږ تر لږه په اوسنۍ مرحله کې د ښاغلي کرزي تحلیل نسبت د راتلونکو ټاکنو ولسمشریزو کاندیدانو ته معقول ښکاري. اوسني کاندیدان خو له امریکا سره تړون په یوه خوله او تقریبا بې قید او شرطه لاسلیکوي. داسې ښکاریږي چې دوی له امریکا څخه په خپله پیژندنه کې یا کمزوري دي یا غلط.
دا ډول د ۱۳۹۳ ل کال د ولسمشریزو ټاکنو له پاره نوماند ۱۱ تنه هم په خپلو خبرو او مناظرو کې وایې چې سولې ته ژمن او لومړیتوب ورکوي، دوی سمدستي داخبره هم پسې کوي چې که واک ته ورسیږي له امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک کوي، داسي معلومیږي چې د دوی د سولې اواز هم یواځي د افغان ولس غولول دی، ځکه چې د افغانستان په اوسنیو شرایطو کې امنیتي تړون او سوله یو د بل ضد شعارونه دي. ایا دوی به هم یو ځل بیا لس کاله له امریکا سره پارټنرشیپ او ملګرتیا کوي او دا ولس به یو ځل بیا پرې تباه کوي، ترڅو په اخر کې پوه شي چې امریکا دلته څه غواړي؟ او د ښاغلي کرزي غوندې یې په اخر کې هوښ سر ته راشي؟
پاکستان هم په خپل وار پر افغاني او پاکستاني طالبانو ډول ډول فشارونه راوستل، هغوی یې له منځه یووړل، بندیان یې کړل، شکنجه یې کړل، خو ونه توانیدل چې افغان طالبان کمزوري او پاکستاني طالبان مذاکراتو ته د زور له لاري چمتو کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

اصل جنګ د امریکا د شتون پر سر دی، که امریکا نه وي، نو بیا خو به افغانان په خپلو منځونو کې حتما جوړ جاړي ته سره رسیږي، ولي که امریکایي پوځیان او امریکایي اډې وي، ممکن به نه وي چې وسلوال مقاومت دی د یرغل په شتون کې له افغان چارواکو سره خبرو ته زړه ښه کړي.
د سولې د رسۍ سر د امریکا په لاس کې دی، د رسۍ منځ طالبانو نیولی دی، او د رسۍ پای ښاغلی کرزی کله یو لور او کله به لور ته کشوي.
هر لور ته چې امریکا غواړي د رسۍ مخه هغې لورته کشوې، طالبان په منځ کې دي، نړیوال یې نهویني، او نه یې هم خبره اوري، نه امریکا چاته (نړیوالو ته) اجازه ورکوي چې له هغوی سره خبره وکړي، کرزی صاحب یواځې د رسي په لکۍ پسي نښتی دی، چې هیڅوک یې خبره نه اوري، او نه هم کوم ښه کردار ادا کولای شي، ځکه چې اصل کې د رسۍ سر او منځ مهم دی، چې هغه په کنټرول کې واخستل شي.
امریکا په تیرو دولس کلونو کې د پلان له مخې، چې دوی ښه پوهیدل، له یو او بل سره د طالبانو په نوم (جعلي طالبان) د سولې ډنډوره ږغوله، امریکایان به ښه پوهیدل چې دغه خلک نه د طالب استازیتوب کوي او نه هم صلاحیت لري، خو نړیوالو، افغان او امریکایي ملت ته به یې د دروا‌غو دغه ډرامه جوړه کړي وه، ترڅو د ملتونو له فشار څخه تر یو وخت پورې ځان وژغوري.
د افغانستان اوسني حکومت د سولې په نوم ډول ډول پروژې تر لاسه کړي، هیڅ یوې پروژې یې نتیجه ورنه کړه او نه هم دوی په دي نیت دغه پروژې ډیزاین کړي وي چې نتیجه ورکړي او په هیواد کې د رښتوني سولې له پاره کار وکړي.
اوس بیا د سولې په نوم غولونکو خبرو او کنفرانسونو زور اخستي دی، او تر ټولو وروستی کانفرانس یې په دوبۍ کې چې دوی وایي د طالبانو د رهبري شورا کسانو له خوا جوړ شوی، کورنیو او بهرنیو رسنیو ښه هوا ورکړه، چې د طالبانو مشرانو له افغان حکومت سره د سولې خبرو ته چمتوالی ښودلی.
دسولې شورا لوړرتبه هئیت د معصوم ستانکزي په مشري د دوبۍ د کانفرانس څخه وروسته ډیر ژر دوبۍ ته د دوی په وینا له طالب مشرانو سره د خبرو له پاره ورسیدل.
په یوه خوله کورنۍ او بهرنۍ رسنۍ د افغان ولس او نړیوالو ملتونو په سترګو کې خاوري شیندي، همدغه چې دوی وایې طالبان مشران او د طالبانو د رهبري شورا مهم غړي دي، ډیری یې له کابل څخه غوښتل شوې، او همدلته له ډیره وخت څخه په کابل کې هستوګن دی، وخت ناوخته د سولې عالي شورا سره دلته په کابل کې دننه مجلسونه کوي، هغه کسان چې له پاکستان څخه دغې غونډې ته تللی، د هغوی هم ځینې یې په مختلفو وختونو کې کابل ته راغلي، او یا خو یې په پاکستان کې د سولې شورا او یا افغان دولت له چارواکو سره مخکې هم د طالبانو په نوم لیدلي دي.
ځینې خو د همدغې غونډې ګډونوال چې افغان حکومت او نړیوالې رسنۍ یې د طالبانو د رهبري شورا غړي بولي داسي کسان هم دي چې د سولې عالي شورا اویا سولې اړوند کورنیو ادارو څخه له ډیره وخت راهیسي معاش اخلي.
ترڅو چې د سولې خبرې په رښتوني ډول د اصلی جهتونو ترمنځ نه وې پېل شوې، دغه ډول غونډې او ناستې یواځې او یواځي د عامه افکارو د مغشوشتیا باعث ګرځي، او کومه نتیجه نه ورکوي.
که موږ قبول کړو چې په دوبۍ کې غونډه د طالبانو د رهبري شورا دغړو ده، د کومو دلایلو له مخې دهغو اوه ۷ پخوانیو طالب وزیرانو نوم نه افشاء کیږي چې دوی یې دعوه کړي چې هلته یې په غونډه کې ګډون درلود، دا ډول ولې دهغو نظامي قومندانانو نوم له رسنیو او خبریالانو سره نه شریک کیږي چې د دغې غونډې مشرانو یې په غونډه کې د ګډون دعوه کړي؟
مهمه خبره داده چې د دوبۍ غونډې ګډونوال ډیری یې له کابل او یا ممکن کندهار هوایې ډګرونو څخه تللي وي، که دغه کسان له افغان دولت سره اړیکې ونه لري،څه ډول امکان لري چې دوی دي دوبۍ ته له همدې لاري ولاړ شي؟
د غونډۍ یواځینۍ لاسته راوړنه به داوي چې مولوي عبدالرقیب د طالبانو د وخت د مهاجرینو وزیر یې قرباني شو، او د هغه وژل به د غونډو پر ګډونوالو خامخا تاثیر وکړي، دا ډول دغه غونډه هغه وخت نوره هم بې ارزښته شوه، چې د غونډې د مشر پیغام د افغان حکومت د سولې عالي شورا پر پاڼه خپور شو.
امریکا او د ښاغلي کرزي اداره لا هم نه دي چمتو چې د سولې حقیقي هڅې صورت ونیسي او د سولې د لاري د امریکا له خوا د افغانستان یرغل ته د پای ټکی کیښودل شي، ځکه چې امریکا د سولې خبرې او د سولې د لاري طالبانو ته قوت سپارل د خپلې ماتې په معنی تعبیروي، او دا ډول ښاغلی کرزی د سولې د لاري د افغانستان د مسئلې حل کول د خپل واک د لاسه ورکولو په معنی تعبیر کوي.

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

يواځي طالبان دی چې هغوی د سولې حقيقي خبرو ته ژمن دي، امريکا د قطر دفتر د خلاصيدو پر مهال ورسره غلطۍ وکړه، دا ځل طالبان د سولې خبرو د بيا پيل کيدو له پاره ځيني شرطونه لري، چې يو له هغو شرطونو څخه يې بايد امريکا ومنی، د ګوانتانامو او امريکايي بنديانو تبادله، د امريکايي پوځونو د وتلو اعلان او اډې نه غوښتل، دا ډول د انتخاباتو ځنډول، ولي امريکا د خپل غرورو او سرزوري له امله لاهم چمتو نه ده چې د طالبانو شرايط ومني او د سولې خبرې د امريکا او طالبانو تر منځ په مخامخ ډول پيل شي.
نوي خبرونه دا دی چې امريکايي چارواکو چمتووالی ښودلي چې د امريکايي بندي بوبريګدال په مقابل د ګوانتانامو پنځه افغان بنديان خوشي، کړي، که دغه کار او د بنديانو تبادله وشي، د سولې له پاره يې ښه پرمختګ ګڼلای شو.
دا ډول د بګرام د ګردو بنديانو خوشي کول چې ځيني شنونکې په دي نظر دي چې د امريکا د مهمو او ځواکمنو چارواکو په خوښه به ترسره شوې وي هم د سولې په ډګر کې څو قدمه پرمختګ ګڼل کيږي.
اوس چې د امريکا اقتصاد د امريکا په تأريخ کې کښته درجي ته ټيټ شوی، د امريکا ډيری خلک بې کاره او بې دندې دي، د امريکا ډيری فابريکې ډيوالي شوې، په نړيواله سطحه د امريکا رعب له منځه ولاړ، نظامي قوت يې نړيوالو ته ضعيف ښکاره شو، ځکه په افغانستان او عراق کې يې هغه ډول لاسته راوړنۍ ونه لري کوم ډول چې امريکايي پوځيانو غوښتل، دا ډول په افغانستان او عراق کې يې درونډ ځاني زيان وليدی، او بالاخره دي نتيجه ته امريکايان ورسيدل چې په افغانستان کې بهرني يرغلګر دوست نه لري او نه يې پيداکولای شي، يواځي د ګوتو په شمار څو تنه ورسره تر هغه وخت پوري ملګري دي تر څو چې د امريکا څخه پرېمانه ډالر تر لاسه کوي او د امريکا په شتون کې خپلې ګټې خوندي بولي، نور يې ګرده افغان ولس د تيري او يرغل پر خلاف دي، آيا اوس به امريکا دي ته زړه ښه کړي چې د کرزي نا سنجول شوې او شخصي غوښتنو ته مثبت ځواب ووايې؟ چې طالبان نور هم وتېکول شي او په زور په افغان حکومت کې ګډ کړل شي.
امريکايان ښه پوهيږي چې هغوی پر طالبانو د بري خوب نور نه وينې، هغه خوب او خيال يې تر سره نه شو، د کوم له پاره چې دوی افغانستان او عراق ته ننوتل، اوس يواځي غواړي چې د خپلو پوځيانو د وتلو له پاره د وړو پوزه جوړه کړي، خو ښاغلی کرزی لاهم هغه ډول غوښتنې لري، چې نه خپله ورته ژمن دي، نه يې امريکا کولای شي او نه به يې هم په هيڅ ډول او قيمت سره طالبان ومني، دا چې طالب دي د سولې تر نوم لاندي وسله پر ځمکه کيږدي، له جنګ څخه دي لاس واخلي، تسليم دي شي، او امريکا ته دي اډي ورکول شي؟
امريکا ته په کار ده چې مخکې د خپلو پوځيانو تر وتلو په افغانستان کې د ريښتونې سولې په نتيجه کې د يوه داسي افغان شموله حکومت ننګه اعلان کړي چې ټولو جهتونو ته د منلو وړ وي، تر څو په راتلونکې کې امريکا، نړۍ او په ځانګړې ډول منځنۍ آسيا له افغانستان څخه د تهديد ويره ونه لري.
پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ